# گلابو (ناول)

(مینه کې د پای ټکی نشته، صرف کامې دي، کامې!)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکوال: نعمت الله رحيمي**

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............کتاب پېژندنه:.......................................................................................................

د کتاب نوم: **ګلابو (ناول)**
لیکوال: **نعمت الله رحیمي**
اړیکه: **Niamatullahr3@gmail.com**
کمپوز: **خپله لیکوال**
د خپرېدو کال: **2021 زېږدیز ـ ۱۳۹۹المریز کال**

.......................................................................................................................

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

زما د هرې بريا لامل قدرمن ورور رفيع الله رحيمي ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۹ میلادي کال - کابل

د پسرلني سمستر د پیل لومړۍ ورځ ده، غالب د ښوونځي څخه د فراغت څلور کاله وروسته پوهنتون پیل کړی له لمانځه وروسته یې د ځان تیارولو باندې پیل وکړ ۶:۳۰ کیدونکې وې غالب یې د مور خونې ته ورغی ویې ویل:

- ادې! زه ځم

غالب منډه کړه مور یې ورپسې ورغله غږ یې کړ:

- زویه! یو څه خو وخوره کنه بیا ولاړ شه

غالب غږ کړ:

- نه مورې! لاره اوږده ده وروسته خو بیا موټر هم نهٔ پیدا کیږي هلته بهٔ یو څهٔ وخورم

- ښه زویه! ځانته پام کوه

غالب ولاړ د کلي کوڅه کې خپل ملګري ولید ملګري یې وویل:

- واه واه! زموږ د سیمې روښانه څراغ آخر هم بل شو

غالب ودرید ویې ویل:

- مطلب ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو وروسته له څلور کالو پوهنتون پیلوې کهٔ ډېر نه وي نیمه ورځ خو به زموږ غوږونه آرامه وي

غالب مُسک شو ویې ویل:
- ځه بې غمه شه! نیمه ورځ نه پوره ورځ نهٔ راځم

غالب ولاړ د سړک پهٔ سر دریدلی و شیبه وروسته یو موټر راغی پکې کښیناست او ولاړ...

د کابل پوهنتون ته ورسید پوهنتون ته دننه شو شا وخوا یې وکتل ویې ویل:
- سم لوی ځای دی

د اقتصاد پوهنځي تعمیر ته دننه شو خپل ټولګي ته دننه ولاړ یو هلک موبایل لاس کې نیولی و د ډزو غږونه راتلل نور څوک نهٔ ښکاریدل غالب وویل:
- دا هم پیبجي کوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې ولاړ په دريم قطار کې کښېناست څو شيبې وروسته څو انجونې راغلې لومړۍ ورځ وه ځکه ټولګی بې رنګه ښکاريدو ګړۍ وروسته محصلين زيات شول کم کم صنف ډک شو غالب لهٔ ځينو هلکانو سره معرفي شو د پوهنتون لومړۍ ورځ همداسې تيره شوه...

د مازديګر وخت کيدونکی و، غالب کورته را ورسيد خونې ته دننه شو، مور او ورور يې ناست غالب کښيناست ورور يې وويل:

- هن! راغلې څنګه وه لومړۍ ورځ؟

- څنګه به وه؟ تاسو زه خپل زړه ته چيرته پريښودم زما د رياضي جمع او منفي لا ندي زده اقتصاد بهٔ څه زده کړم

ورور يې غلی شو شيبه وروسته يې وويل:

- غالبه! هرڅه بهٔ دې زده شي خو زه د ځان لپاره نهٔ وايم ستا پهٔ ګټه وايم، دا انځورګري چې ته يې کوې دا د وخت تيرولو ته ښه ده خو راتلونکي کې بيا پهٔ درد نهٔ خوري

- مننه مننه! چې زما پهٔ فکر کې يې خو وبه ګورو چې اقتصاد له ما څهٔ جوړوي داسې نه چې نهٔ ددې دين پاتې شم نه د سادين

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب له خونې ووت، خپلې خونې ته ولاړ، د سبا ورځې اندیښنې یې کولې چې ګواکې سبا بهٔ درسونه پیل وي خو وخت یې اندیښنو ته پام نه کولو همداسې پهٔ تیریدو و، شیبه وروسته یې مور ور غږ کړ:

- غالبه! زویه راځه ډوډۍ تیاره ده

غالب ولاړ...

ډوډۍ یې وخوړله، بیرته خپلې خونې ته ولاړ لمونځ یې وکړ او ویده شو...

شپه سبا شوه، د چرګانو بانګونه تر غوږ کیدل غالب پاڅیدو اودس او لمونځ یې وکړ، له لمانځه وروسته یې ځان تیار کړ او د کور څخه وتلو پر وخت یې ورور ولید ویې ویل:

- تهٔ خو سخت لیواله یې او بیا وایې اقتصاد مې نهٔ خوښیږي خو دومره وختي روان یې

- یاره! پهٔ یو کې مې نهٔ پریږدې

غالب همداسې روان شو، پوهنتون ته ورسید ټولګي ته دننه شو، ټولګی تش و څوک نشته وو، له څوکۍ یې خاورې پهٔ کتابچه ټک وهلې او کښیناست لهٔ جیب یې موبایل را وویست فیسبوک یې خلاص کړ، همداسې موبایل کې بوخت و چې د ټولګي دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه شوه غالب شاته ور وکتل، یوه انجلۍ ولاړه وه، له خیرې ډېره معصومه او په رنګ ښکلې وه انجلۍ وویل:

- وبښئ د اقتصاد لومړي سمستر ټولګی همدا دی

غالب د انجلۍ ښایسته ته په کتو کې غرق و، انجلۍ بیا وویل:

- اوووی! اورې

غالب وویل:

- هو هو همدا دی

انجلۍ ټولګي ته دننه شوه، غالب همداسې ناست ؤ او په فیسبوک کې بوخت و، په غلطۍ کې ترې یوه ویډیو پلې شوه یو آواز شو:

- په شنو پټو کې ناست یمه نو خو نو

ویډیو یې ژر بنده کړه انجلۍ څټ ته را وکتل او یو دم په خندا شوه غالب وویل:

- وبښه! غلطۍ کې پلې شوه

انجلۍ په خندا وویل:

- دا هغه کسکر دی هههه
- ته یې څۀ پیژنې؟
- ماته مې خور په واټسپ کې لیږلې وه ویډیو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب لهٔ ځانه سره وویل:
- نه نه خبرې بهٔ نهٔ زیاتوم ګني بیا به فکر وکړي چې له چانس ګټه اخلم

ویې ویل:
- ښه ښه

انجلۍ غلې شوه، غالب هغسې فیسبوک کې بوخت و چې انجلۍ بیا وویل:
- وبښه
- امهم مهرباني څه د ویل؟
- ما ویل چې تقسیم اوقات درسره نشته
- نه تراوسه خو یې ندی راکړی

څو شیبې وروسته، نور محصلین هم راغلل ټولګی ډک شو د غالب څنګ ته یو ځوان کښیناست غالب وویل:
- ستا نوم څه دی، دلته خو ټول لکه مړي غوندې ناست دي څوک له چاسره خبرې نهٔ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک مُسک شو ویې ویل:

- زما نوم شوکت دی، او ما هم زړه نشو کولای چې تاسره خبرې وکړم

- نه خو ښه وو چې ما خبرې وکړې ګني د پوهنتون دوره بې له ملګرو سخته وي

غالب او شوکت تر ډېره پهٔ کیسو بوخت و، پهٔ څو ساعتونو کې داسې ملګري شول لکه له کلونو چې یو بل پیژني...

د لومړي ساعت د کوچني اقتصاد لیکچر ختم شو تفریح شوه ډېر محصلین د باندې ووتل خو غالب او شوکت لا پر خپل ځای ناست وو غالب وویل:

- شوکته! یو څهٔ ووایم خاندې نه؟

- نه ته خو ووایه

- هغه انجلۍ باندې مې زړه بایللی

شوکت پهٔ خندا وویل:

- ههه! ښنګه دومره زر لا یې پیژنې هم نه

- وبه یې پیژنم خو بس اوس زړه سره څه کولای شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوکت یوه شیبه غلی شو، ویې ویل:

- هسې هغه خو دومره ښکلې هم نده، دغه شاته یې چې ناسته ده دا انجلۍ ډېره ښکلې ده

- ههههه! نه نو زه سبق ته راغلی یم، داسې هم نه چې هرچا باندې مئین شم

- اممم! زړه دې خو ګُمان مې نشي چې هغه به خوشي تاته وګوري هم

غالب مُسک شو ویې ویل:

- ته صبر وکړه زما یو هنر شته چې ټول به بیا راته وګوري...

دویمه ورځ هم تیره شوه غالب کور ته راغی بیک یې څټ ته اچولی و نور هرڅۀ یې ورسره بیرته کورته یوړل خو زړه یې پاتې و ځکه خو غالب بې تابه ښکاریدو...

کور ته دننه شو خپل بیک یې کیښود او بیرته د باندې ووت د کور مخې ته ناست و چې ملګری یې را ښکاره شو ویې ویل:

- غالبه!

غالب سر ور پورته کړ ویې ویل:

- څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- راځه کنه ګيم ته زه اوس آنلاين کيږم يو ټې ډي ايم به وکړو

غالب غلی و ملګري يې بيا غږ کړ:

- سمه ده کنه؟

غالب ورو وويل:

- زه نور پابجي پريږدم د فرمان کسکر شعرونه ګورم

ملګری يې په خندا شو ويې ويل:

- ته خو ادبيات نۀ وايې چې شعرونه ګورې

ملګری يې ولاړ، ماښام کيدونکی و د شپې ډوډۍ يې وخوړله او خپلې خونې ته ولاړ...

تياره د سبا پۀ سوچونو رڼا شوه، لمر بيا پر ځمکه خور ؤ غالب د پوهنتون پۀ لور روان شو...

د ګڼه ګوڼې له عمله لږ ناوخته ورسيد ټولګې ته دننه شو خو لا استاد نۀ ؤ راغلی څو انجونې ناستې وې له يوبل سره يې خبرې کولې يوې انجلۍ وويل:

- دا نو څۀ رقم شو! وای فای شته پاسورډ يې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب لۀ ځانه سره وويل:

- زویه! همدا یې وخت دی یو کار وکړه

خپل بیک یې کیښود، لنډه شیبه وروسته د تختې سر میز باندې لپ ټاپ ته نږدې ورغی لګیا ؤ پکې چې شیبه وروسته یې لپ ټاپ لوی سکرین ته وصل کړ ویې ویل:

- دا د وای فای پاسورډ دی کۀ د چا پکار وي...

بیرته خپل ځای ته راغی شوکت د واره وویل:

- دا د څنګه پیدا کړ؟

-ههه! ته نشې پوهیدلی بس پریږده یې

شوکت ټینګار وکړ ویې ویل:

- خو بیا هم دا خو هرڅوک نشي کولای

غالب له شیبې چوپتیا وروسته وویل:

- هسې دا اقتصاد زۀ پۀ خپل زړه نۀ وایم زما مینه له انځورګرۍ او کمپیوټر ساینس سره ده او دا شیان مې پخوا زده کړي وو ما ایتیکل حیکینګ ویلی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد ټولګي ته دننه شو، ډیرو انجونو شاته د غالب خواته ورکتل خو هغې هیڅ له کتابچې سر نهٔ پورته کولو...

لومړی ساعت خلاص شو، شوکت وویل:

- یاره! دا احصائیه خو بیخي سخته ښکاري زهٔ ځم یو څهٔ وخورم وړی شوم بیخي

شوکت ولاړ غالب ټولګي کې ناست و او پهٔ قلم یې لوبې کولې، چې شیبه وروسته شوکت پهٔ خندا راغی غالب وویل:

- څه شوي؟؟ چې خوشحاله یې

شوکت مُسک شو ویې ویل:

- د انجلۍ نوم مې درته پیدا کړی

- ریښتیا!؟

- هو خو دا انجونې ډیرې تیزې دي دومره کم وخت کې یې بیا یې د واټسپ ګروپ جوړ کړی ده

- ښه خو تا یې نوم څهٔ ولیدلو؟

- یاره خو هلته ناسته وه موبایل ته مې ور وکتل بل چا میسج کړی و لیکلي وو " ښنګه یې ګلابو"

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب پهٔ غوصه وويل:

- نه نو دا نوم خو د هغې له خيرې سره هيڅ نهٔ جوړيږي

غالب غلی شو، له ځان سره يې ويل:

- گلابو! امممم، يانې گل ببو، نه نه! يو وار حاضري جوړه شي خپله بهٔ مالوم شي

غالب څو شيبې غلی ؤ، بيا يې لهٔ ځانه سره وويل:

- کهٔ نوم يې گل ببو وي، دا خو زما د نيکونو د وخت نوم دی

له همدې سره استاد ټولگي ته دننه شو، شور ماشور ختم شو ټولگي کې چوپتيا خوره شوه چې دروازه ټک ټک شوه يو ځوان ؤ غږ يې کړ:

- يو کس دې پهٔ يوه پاڼه کې د ټولو نومونه وليکي بيا يې د پوهنځي دفتر ته راوړئ چې حاضري مو چاپ شي

غالب لاس پورته کړ ويې ويل:

- زهٔ بهٔ يې وليکم بيا يې دروړم

کس بيرته ولاړ غالب شوکت ته وويل:

- تهٔ يوه تشه پاڼه راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوکت پاڼه ورکړه ویې ویل:

- یاره! د یو نوم لپاره دومره زحمت وباسې

- ته غلی شه! زه پوهیږم چې څه وکړم

غالب ولاړ د څو کسانو نومونه یې ولیکل چې د هغې نوبت را ورسید ورغی، ویې ویل:

- وبښه نوم او د پلار نوم ؟

انجلۍ سترګې را پورته کړې غالب ته یې وکتل او په مُسکۍ لهجه یې وویل:

- ګلابو... نه وبښه، هوسۍ د پلار نوم عبدالغفور

غالب په لړزیدلو لاسونو نوم ولیکلو هوسۍ وویل:

- یخه تبه لرې لکه چې کُرونا یې

غالب ورو وویل:

- د مینې تبه ده اغلې ګلابو

هوسۍ په غوصه وویل:

- په دغه نوم یوازې زما نږدې ملګرې ماته غږ کوي، په خپل حد کې اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب غلی روان شو...

رخصتي شوه خو غالب خپه ښکاریدو شوکت وویل:
- یاره نو ته زړه مه خوره ټولې انجونې دغسې کوي لومړیو کې وروسته به هرڅه سم شي
- پریږده یاره! ژوند کې مې مینې ته وخت نهٔ ورکولو چې مئین شوم اوس مینه ماته وخت نهٔ راکوي

شوکت د غالب پهٔ اوږه لاس کیښود ویې ویل:
- غم مکوه زه درسره مرسته کوم ما داسې ډیرې ستونزې حل کړې دي

غالب څهٔ ونهٔ ویل، لنډه شیبه وروسته شوکت بیا وویل:
- هسې یاره تاته یې څهٔ وویل چې داسې خپهٔ شوې

غالب سوړ اسویلی وویست ویې ویل:
- یاره زه یې تر تأثیر لاندې راغلم لاسونه مې ریږدیدل ویل یې تبه لرې ما وویل د مینې تبه لرم اغلې ګلابو نور غوصه شوه

شوکت یو دم پهٔ خندا شو ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ههههه! څومره ساده یې نو دومره ژر خو د مینې په اړه هیڅ مه وایه لومړی یې له ملګرتیا پیل کړه
- نه نه! زما نهٔ ملګرتیا نهٔ کیږي انجونو سره مې ملګرتیا کله هم نده کړې

د غالب او شوکت لاره جُدا شوه غالب د خپل کور پهٔ لور روان شو او شوکت د خپل منزل...

- یوه ورځ وروسته

غالب پهٔ ټولګي کې ناست ؤ، شوکت راغی کښیناست غالب غلی ؤ شوکت وویل:
- څهٔ شوي زړګیه؟ ولې د شعر بند دی؟

غالب پهٔ غوصه وویل:
- پریږده یاره اعصاب مې خراب دي
- هسې ستا لپاره مې ټوله شپهٔ سوچونه وکړل یوه لاره مې پیدا کړه

غالب شوکت ته رډ رډ وکتل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تیر یم ترې، ماما مې رېښتیا وایي چې انجونو او بس پسې بهٔ منډې نه وهې، ما یوه غلطي وکړه

شوکت مُسک شو ویې ویل:
- ته مئین نهٔ یې دروغ وایې، پهٔ مینه کې د پای ټکی نهٔ وي صرف کامې وي کامې...
- ښه سيي ده زه مئین نهٔ یم خو ته خپله خبره وکړه څهٔ سوچ د کړی؟
- نه اوس یې نه وایم تا اول نازونه وکړل
- اووف! ووایه نو
- ښه گوره د رخصتۍ وخت کې بهٔ ورشې او کتابچه بهٔ ترې وغواړې ووایه چې ما نوټ ونهٔ لیکلو همغه پرونۍ تبه بهانه کړه
- ښه نو پهٔ کتابچه څهٔ وکړم؟
- کتابچه بهٔ ځان سره کور ته یوسې خپله شمیره بهٔ پکې ولیکې سبا بهٔ یې ورکړې

غالب پهٔ غوصه وویل:
- پریږده یاره زهٔ شمیره چاته نهٔ ورکوم خو کتابچه اخلم ترې کهٔ خپله یې شمیره لیکلې وه ښه گڼي هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رخصتۍ وخت کیدونکی و غالب په انجلۍ غږ وکړ:

- هوسۍ !

انجلۍ شاته را وکتل ویې ویل:

- څه دي؟

- امم ما نوټ ندی لیکلی ناروغ یم کهٔ کتابچه د راکړې...

- گوره زما خط خراب دی پرې پوی بهٔ نشې

- پوهیږم پرې ته یې راکړه سبا یې حتماً درته بیرته راوړم

هوسۍ کتابچه ورکړه رډ رډ یې ور وکتل ویې ویل:

- گوره کهٔ کُرونا وې نو لهٔ ما لرې اوسه او بل اوس خو بهٔ کتابچه درکړم خو صنف کې نور هم شته بل ځل یې له بل چا واخله

غالب کتابچه ترې واخیسته خپل پر ځای کښیناست او شوکت یې پهٔ ښځې ووهلو ویې ویل:

- ستا د لاسه یې دومره لیکچر راکړ

پوهنتون رخصت شو غالب کورته راغی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورته ورسید بې سلامه دننه شو مور یې وویل:

- عجیبه وخت شو، خلک سبق وایي عقل یې ډېر شي ستا خو ورځ په ورځ کمیږي

- ولې څهٔ مې کړي؟

- دې بوډۍ مور ته یو سلام نه اچوې

- ښه سلام! بس سیي شو؟

پهٔ غوصه خپلې خونې ته دننه شو، څو شیبې همداسې ناست ؤ، کتابچه یې را واخیسته او لهٔ غوصې یې کتابچه څیرې کړله او پهٔ همدې غوصه کې خوب غلبه پرې وکړه ویده شو...

ګړۍ وروسته یې سترګې پرانیستې څو شیبې غلی ناست ؤ، یودم یې لهٔ ځانه سره وویل:

- آه دا ما څهٔ وکړل د بیچاره انجلۍ ټول نوټونه مې ورته برباد کړل

پهٔ همدې افسوس کې شپهٔ سبا شوه، پوهنتون ته روان شو وختي ورسیدو د پوهنتون پهٔ بڼ کې تر یوې ونې لاندې ناست ؤ شیبه وروسته هوسۍ راغله د پوهنځي تعمیر ته دننه کیده چې غالب ور غږ کړ:

- وبښه! څو شیبې وخت راکولای شې

- څه! څه شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یو وار راشه دلته کېنه

هوسۍ ور روانه شوه، همداسې ولاړه وه غالب وویل:

- کېنه
- نه کښیناستو ته وخت نهٔ لرم ژر ووایه هرڅه چې وایې

غالب پورته ور وکتل، هوسۍ بانه لهٔ یو بل سره ور وستل غالب وویل:

- ستا د نوټونو کتابچه رانه ورکه شوې

هوسۍ څهٔ ونه ویل او همداسې روانه شوه، شیبه وروسته غالب هم ټولګي ته ورغی، ټولګي ته دننه شو...

پر خپل ځای ناست ؤ لا ټولګی تش ؤ ځینې محصلین نهٔ وو راغلي یوه انجلۍ دننه شوه او د غالب څنګ ته پر څوکۍ کښیناسته ویې ویل:

- زما نوم وړانګه دی، هغه اول قطار کې کینم
- ښه
- امم! ما ویل چې ته خو پهٔ دې شیانو پوهیږې زما موبایل کې یوه ستونزه ده راته جوړ بهٔ یې نهٔ کړې

غالب د هوسۍ خواته ور وکتل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه زهٔ نهٔ پرې پوهېږم

وړانګه لا ناسته وه چې شوکت راغی غالب وړانګې ته وويل:
- کهٔ زحمت نهٔ کېږي پر خپل ځای کېنه دا زما د ملګري ځای دی

وړانګه خپل ځای ته ولاړه، شوکت کښيناست ويې ويل:
- اوه! ياره ستا مينوال خو ډېر زيات شوي
- غلی شه ياره
- ښهٔ خو څه يې ويل؟
- خودا موبايل کې يې څه ستونزه وه
- ښه خو څنګه شوه د کتابچې مشوره څهٔ ګټه يې وکړه

غالب پهٔ شوکت ور پورته شو ويې ويل:
- خاورې مشوره! زه به له تاسره ګورم

شوکت منډې کړل او غالب ورپسې ؤ، د پوهنتون بڼ کې دواړه ودريدل سترې شول شوکت وويل:
- خير خو ګوره يوه بله مشوره درکوم
- نهٔ يې غواړم ستا دا بيکاره مشورې
- ته خو غوږ شه باور وکړه دا بهٔ ګټه وکړي

غالب او شوکت دواړه کښيناستل شوکت وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- داسې بهٔ وکړې چې هغې انجلۍ سره بهٔ اړیکې وساتې ارواه پوهنه وايي چې کومه انجلۍ درسره مینه لري او له بلې انجلۍ سره د وګوري نو اور پرې بلیږي کیدای شي داسې څهٔ نا څهٔ خو وشي، نور د خپل زړه...

لنډه شیبه وروسته غالب وویل:

- یعنې اوس ورشم موبایل یې جوړ کړم ورته او د ځان پهٔ خاطر د هغې زړه هم مات کړم؟

- نه زهٔ خو نهٔ وایم چې یاري ورسره وکړه، ملګرتیا ملګرتیا...

غالب پهٔ سوچ کې ډوب شو شیبه وروسته یې وویل:

- ریښتیا! فلمونو کې مې هم همداسې لیدلي

- نو زهٔ خو تاته خوشي مشوره نهٔ درکوم

غالب او شوکت د ټولګي په لور روان شول، غالب یې پر ځای کښیناست شوکت راغی ویې ویل:

- پاڅیږه! دلته څه کوې؟

- څه بهٔ کوم؟ ولې

- تراوسه مې څهٔ ویل درته ورشه ثواب وګټه

- ثواب؟

- هو! د انجلۍ موبایل ورته جوړ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوکت ټینګار وکړ غالب یې په زوره له خپل ځای پاڅولو د انجلۍ خواته ور روان شو ویې ویل:

- وبښه اغلې!

انجلۍ مخ ور واړؤ ویې ویل:

- مهرباني وکړه؟

- مخکې د ویل چې موبایل کې د څهٔ ستونزه ده مرسته وکړم؟

انجلۍ پهٔ غوصه وویل:

- د موبایل ستونزه بهٔ حل شي خو ستا نه، غرور دې کم کړه زما موبایل بهٔ جوړ شي

غالب ناهیلی بیرته خپل ځای ته راستون شو، شوکت وویل:

- خیر زړه مهٔ خوره له فطرته بدبخت یې

څو شیبې دواړه چُپ وو، شوکت پهٔ خندا شو ویې ویل:

- هههه! هغه شعر ریښتیا ؤ چې دیوالونه چې کاږه شي چپه کیږي تا ولې مخکې نازونه کول انجوني کهٔ ناز وکړي خیر خو هلک ولې ناز وکړي؟

غالب پهٔ غوصه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خوشي چټې مشورې راکوې يوه هم ګټه نهٔ کوي

شوکت تک سور واوښت، شيبه وروسته غالب وويل:

- وښه! ياره غوصه وم

شوکت څهٔ ونه ويل، غالب بيا وويل:

- خير ده نو ته هم اوس داسې مکوه

شوکت مُسک شو ويې ويل:

- ههها! وګوره ماته دې يو دوه زارۍ وکړې درسره پخلا شوم، همداسې د انجونو سره هم اوسه، يو لوی عالِم وايي:

- انجونې د ناز ټوټې دي، او د نړۍ تر ټولو پياوړی کس هم د ښځې مُسکا ته اړتيا لري

غالب رډ رډ ور وکتل ويې ويل:

- ښه ده، خو! دا لوی عالِم څوک ؤ؟

شوکت پهٔ خندا وويل:

- هها! نور څوک ستا د ماشومتوب ملګری شوکت خان

- هها ښه خو د ماشومتوب ملګری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو ما د ماشومتوب ملګری نهٔ درلود هغه هم ته یې اوس وروسته بهٔ هم اوسې

استاد ټولګي ته راغی، د احصائیې ساعت ؤ استاد هوسۍ ته ګوته کړه هوسۍ وویل:

- ما ښایې؟

- هو تاته وایم، تیر درس ووایه

هوسۍ شاته وکتل غالب ته یې پهٔ غوصه کتل غالب نظر ترې غلا کړ ځان یې لهٔ شوکت سره بوخت کړ، استاد بیا غږ کړ:

- ولې غلې یې؟

هوسۍ هیڅ ونهٔ ویل همداسې غلې وه استاد وویل:

- کینه! ټول داسې خدای وهلې یاست له لومړیو ورځو درس نهٔ وایئ

غالب شوکت ته وویل:

- وګوره د همغه لوی عالم مشورې د لاسه خوارکۍ د ټولو مخ کې وشرمیده

شوکت څهٔ ونه ویل، شیبه وروسته استاد وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا لپ ټاپ ولې سکرين سره نهٔ وصليږي څه بې ډيلسپلينه ټولګی مو دی

استاد يوه شيبه غلی شو بيا يې وويل:
- نماينده مو څوک دی؟

يوه انجلۍ پاڅېده ويې ويل:
- نماينده خو مو لا ندی ټاکلی خو ټول غواړي غالب نماينده شي

استاد ټولګي ته يو نظر وکړ ويې ويل:
- غالب څوک دی؟

غالب څه عکس العمل ونهٔ ښود شوکت غبږ کړ:
- دا دی غالب

استاد وويل:
- غالبه! نور ته نماينده يې ورشه د پوهنتون د آي ټي له ټيم يو کس راوله چې دا سکرين وصل کړي ستونزه يې لويه ښکاري

غالب له شيبې چوپتيا وروسته وويل:
- استاده! پهٔ ديوال باندې يوه پاڼه ده د آي ټي برخې شميرې ليکلې زنګ ورته ووهه او زه نماينده ګي نشم کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښه خو نماینده ګي ولې نهٔ کوې؟
- زه دا د مزدورۍ کار نشم کولای

ټولګي کې ټول پهٔ خندا شول، استاد موبایل له جیب را وباسلو ویې ویل:
- ښه غلي شئ درسي وخت ضایع کیږي زه زنګ ووهم چې یو کس راشي دا بلا وهلی جوړ کړي

څو شیبې وروسته یو کس راغی، لپ ټاپ کې لګیا شو شوکت غالب ته وویل:
- وګوره! دا کس انجونو ته ځان ښایې چې ګواکي زه خو هم یوه پرزه یم

غالب غلی ؤ، هیڅ یې ونهٔ ویل پنځه دقیقې ووتلې کس له لپ ټاپ سر را پورته کړ استاد تهٔ یې وویل:
- نن ګذاره وکړئ، ستونزه یې لویه ښکاري

ددې خبرې سره غالب د واره لهٔ خپل ځای پاڅید د تختې مخې ته ورغی، ایچ ډي ایم آی کیبل یې له لوی سکرین وویست بیرته یې ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچولو د لپ ټاپ سکرين پر لوی ټلويزيون څرګند شو غالب په غوصه وويل:

- چا ګمارلی يې؟ داسې ستونزې د سافټوير نه، د هارډوير وي په ځای ددې چې انجونو ته وګورې يو ځل به دې کيبل کتلی ؤ

کس غلی ؤ، څه يې ونه ويل او همداسې ولاړ...

لومړی ساعت خلاص شو ټول له ټولګي ووتل وړانګه، شوکت او غالب په ټولګي کې ناست وو شوکت وويل:

- زه يو وار دباندې ځم زړه مې تنګ شو

شوکت ولاړ غالب ناست ؤ، شيبه وروسته وړانګه راغله ويې ويل:

- وبښه يو ځل خپل موبايل راکړه

- ولې؟

- يو زنګ وهم زما د موبايل چارج ختم دی

غالب موبايل ورکړ شيبه وروسته د وړانګې له لاسي کڅوړې د زنګ شړنګهار وخوت غالب وويل:

- دا څه دي؟ چارج نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړانګه مُسکۍ شوه ویې ویل:

- نورې خبرې بهٔ بیا واټسپ کې کوو

ولاړه بیرته پر خپل ځای کښیناسته همدې وخت کې هوسۍ ټولګي ته راغله، شیبه وروسته یې شوکت هم راغی د وخت پهٔ تیریدو ټولګی ډک شو غالب وویل:

- ګوره شوکته ددې انجلۍ نیت راته ښهٔ نهٔ ښکاري

- کومه انجلۍ؟

- همدا وړانګه، اوس یې پهٔ چل زما شمیره واخیسته هسې نه ماته بې ځایه هیلې پیدا کړي زه ړوند یم زه بې له خپلې ګلابو بل څوک نهٔ وینم

- نه یاره ته یې مه پریږده چې هیلې وزیږوي مانا دا چې کهٔ یې پیغام ولیږو له اوله یې سر ور خلاص کړه

- ګورو به چې څه نیت لري

د دوهم ساعت استاد راغی غالب لاس پورته کړ لهٔ استاد یې د باندې تللو اجازه واخیسته کتابتون ته ولاړ څو شیبې غلی ناست ؤ، شیبه وروسته یې له جیب موبایل را وباسلو د واټسپ د میسج شړنګ شو خلاص یې کړ لیکلي وو:

- چیرته ولاړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر یې شمیره وکتله خو کومه شمیره چې وړانګې ډایل کړې وه هغه شمیره نهٔ وه بیرته یې واټسپ خلاص کړ پر پیغام پاڼه یې ولیکل:

- څوک یې؟

لنډه شیبه وروسته پیغام وکتل شو خو څه ځواب یې ورنکړو بیا یې پیغام ولیکلو:

- څوک یې ووایه ګني بلاک کوم دې؟

دا ځل آفلاین شو، غالب موبایل کیښود، لنډه شیبه وروسته یې بیرته را واخیست پروفایل یې خلاص کړ له شمیرې د لاندې لیکلي وو:

- ~ګلابو~

د لنډې شیبې لپاره غالب پهٔ هوا ګرځیدو لهٔ ځانه سره یې وویل:

- آه! زما پام نهٔ ؤ، یو وار دا شوکت نهٔ وي؟

ژر یې واټسپ خلاص کړ پیغام یې ولیکو:

- ګوره شوکته! داسې ټوکې مې نهٔ خوښیږي

لهٔ همدې پیغام سره واټسپ آنلاین شو لنډه شیبه وروسته د پیغام ځواب راغی:

- ګلابو.. وبښه هوسۍ د پلار نوم عبدالغفور

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب حک حیران ؤ، همدې وخت کې شوکت هم کتابتون ته راغی د غالب څنګ ته پر څوکۍ کښیناست غالب موبایل په لاس کې نیولی ؤ او همداسې یې د واټسپ پیغام پاڼې ته کتل شوکت وویل:

- د چا په یاد کې ډوب یې؟

غالب شوکت ته موبایل ور وښود ویې ویل:

- وګوره

شوکت ټول پیغامونه وکتل ویې ویل:

- واه ته خو ډېر تکړه یې وخته دې شمیره ترې واخیسته
- آه! یاره ما نه شمیره ترې اخیستې نه مې ورکړې جالبه خو همدا ده چې زما شمیره یې له کومه کړې؟؟
- ته لږ سوچ وکړه حتماً تا ورکړې څه پیریان خو نلري
- نه خو بس مخکې هغه وړانګې شمیره واخیسته بس
- ښه ته ترې وپوښته چې شمیره یې له کومه کړې

غالب پیغام ولیکو:

- هرڅوک چې یې خو زما شمیره تا له کومه کړه

شیبه وروسته د پیغام ځواب راغی:

- نه پوهیږې چې ټولګي کې یم اوس پوښتنې مکوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب موبایل بند کړ بیرته ټولګي ته ولاړ او خپل کتابونه یې را واخیستل کورته ولاړ...

ګړۍ وروسته کور ته را ورسید دروازه یې ټک ټک کړه څو شیبې دروازه خلاصه نهٔ شوه موبایل یې لهٔ جیب را وویست کوچني ورور ته یې زنګ ووهلو شیبه وروسته د کور دروازه خلاصه شوه غالب پهٔ غوصه وویل:

- چیرته مړه یاست یو ساعت کې دروازه نهٔ خلاصوئ

کوچني ورور یې سر ښکته اچولی ؤ ویې ویل:

- کور کې څوک نشته ما پیجي لوبه کوله ایرپاډز مې غوږونو کې و ځکه مې ټک ټک وانه وریدلو

- یو خو دې خدای ددې پیجي بیخ وباسي لمونځ او اودس مو هیر کړی شپه او ورځ پیجي پیجي...

غالب یې خپلې خونې ته روان شو ورور یې لهٔ ځانه سره وویل:

- ستا د لاسه هم ډراپ رانه پاتې شو هم یې مړ کړم

غالب شاته ور وکتل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- غبږ دې اورم، کهٔ داسې د جنګ شوق لرې سرحد ته ولاړ شه چې در مالوم شي

غالب يې خونې ته دننه شو کښيناست لهٔ ځانه سره يې وويل:
- دا څه لوبه روانه ده آخر؟

د پيغام شړنګ شو، واټسپ يې خلاص کړ ليکلي وو:
- وړانګه زما د ښوونځي ټولګيواله ده ما ورته وويل چې ستا نمبر واخلي ځکه ما نشو کولای، ته په ما مئين شوی يې دا خبرې ټول ټولګيوال کوي او ټولګي کې زموږ يو ګاونډی دی د واره يې زما وروڼو ته خبر ورکړی ؤ، زه دلته د مينې او مئينتوب لپاره نهٔ راغلم کهٔ نهٔ غواړې څه در وشي نو لهٔ ما لرې اوسه دا د دواړو پهٔ ګټه ده

غالب د پيغام له لوستلو وروسته د ګلابو نمبر بلاک کړ او شوکت ته يې زنګ ووهلو ټولې خبرې يې ورته وکړې شوکت وويل:
- ياره ته څومره ډارن يې مينه بهٔ داسې وي
- خبره د ويريدو نده زهٔ خو هلک يم خو هسې نه زما د مينې پهٔ خاطر هغه انجلۍ پوهنتون کې بدنامه شي
- ته هم ښه وايې خو خير سبا به خبرې کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبایل یې بند کړ، غالب پریوت خوب غلبه پرې وکړه ویده شو...

را ویښ شو، خونه کې تیاره خوره وه موبایل ته یې لاس کړ سکرین بَل شو ویې ویل:

- آااه! ۱:۲۴ دا څهٔ ډول ویده شوی یم اوس به دا پاتې شپه څنګه تیروم

د موبایل ډېټا یې روښانه کړه، لنډه شیبه وروسته یې ډېټا بیرته بنده کړه د موبایل فلش یې روښانه کړ خپل بیک یې را واخیست د خوب ګولۍ یې را واخیستې ویې خوړلې بیرته پریوت او ویده شو...

شپه د ګولیو پهٔ زور تیره شوه، توري وریځې تر سترګو کیدې څو شیبې وروسته تیز باران پیل شو غالب د باران شړنګهار اړ کړ سترګې خلاصې کړې را ویښ شو ژر یې د موبایل ساعت ته وکتل پهٔ منډه یې ځان تیار کړ له خونې یې د باندې ووت کوچنی ورور یې په پیښجي بوخت ؤ، غالب وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- غټ سریه! کور کې څوک نشته ۹:۳۰ بجې شوې دي کفر کیدو کهٔ د راویښ کړی وای

ورور یې غږ وانه وریدلو غالب د باندې ووتلو د کور انګړ کې موټر ولاړ ؤ بیرته دننه شو پهٔ لوړ آواز یې وویل:

- د لالا موټر ولې پهٔ کور کې دی؟

- پرون یې کوم ملګري سره ؤ سهار یې کور ته راؤست او چغې مه وهه کوڼ نهٔ یم

غالب لهٔ ځانه سره وویل:

- ناوخته هم ده لالا خو هسې نشته موټر به بوځم

د موټر کلی یې را واخیسته ورور یې پهٔ پېجي بوخت ؤ او غالب موټر وباسلو د پوهنتون پهٔ لور روان شو...

پوهنتون ته ورسیدلو موټر یې پارکینګ کې ودرولو د پوهنځي خواته روان ؤ، دری ځوانان یې مخې ته راغلل ویې ویل:

- وبښه! یو ځل راشه لږ کار درسره لرو

غالب بې لهٔ څه ویلو ورغی ویې ویل:

- څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځوان وویل:

- د کومې انجلۍ خوبونه چې وینې او ځوروې یې زموږ د تره لور ده، کهٔ بل ځل مو ورسره ولیدې بیا لهٔ ځانه ګیله وکړه

غالب وویل:

- ههههه! ګواښ دی؟

- هرڅه چې فکر کوې همغه

- ځئ ځئ! کهٔ مې مینه کړې نو د چا لهٔ پلار هم نهٔ ډاریږم

یو بل ځوان وویل:

- ته پوهیږې زما پلار څوک دی؟ لږ سوچ کوه بیا خبرې کوه

غالب روان شو ویې ویل:

- تاسو مالداره خلک خپل پلرونه نهٔ پیژنئ تل همدا وایئ " پوهیږې پلار مې څوک دی، پوهیږې پلار مې څوک دی"

همداسې روان شو، شیبه وروسته د پوهنځي تعمیر ته دننه شو د ټولګي دروازه یې خلاصه کړه د آخر قطار پر یوه څوکۍ کښیناست ناوخته رسیدلی ؤ لومړۍ ساعت خلاص شو تفریح شوه شوکت یې څنګ ته راغی ویې ویل:

- راځه کنه خپل ځای باندې کینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه نه نور پهٔ هغه سپیره ځای نهٔ کینم
- خو ولې؟
- بس خوند يې رانکړ ما له هغې سره د وادهٔ کولو نيت لرلو خو هغه راپسې د کوڅې لنډغر راليږي

شوکت هيڅ ونهٔ ويل ولاړ او خپل کتابونه يې را واخيستل د غالب څنګ ته پر څوکۍ کښيناست غالب وويل:
- ته نو ولې راغلې
- ولې ملګرتيا ده نو مجبور يم

غالب وخندل، تفريح خلاصه شوه د بازارموندنې استاده ټولګي ته دننه شوه شوکت وويل:
- ډيرې خبرې ونکړې دا ښځه سړی ډير بې عزته کوي ګوره
- ههههه! بس نور مې شرافت پريښود خاندم خبرې کوم هسې نه فکر وکړي چې زړه يې را مات کړ داسې بهٔ وکړم چې راپسې مړه شي خو زهٔ به يې څيرې ته هم ونهٔ ګورم
- نه ياره ستا مينه داسې وه؟
- آه مينه مې کړې وه ځکه خپه شوم پرون يې پيغام وليږلو ويې ويل رانه لرې اوسه سمدلاسه مې بلاک کړه خو بيا دې کار ته څهٔ اړتيا وه؟؟ خو بس پريږده يې ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې ورځې او اونۍ تیرې شوې، غالب د ټولګیوالو د سترګو تور جوړ شو، د بازاریابۍ غوصه ناکې استادې هم له غالب سره ښه چلند کولو، د هغې یادونه یې شاته واچول او خپل درسونه یې ویل د ۲۰٪ او ۶۰٪ آزموینو تر ټولو لوړې نمبر د غالب وې خو ګلابو ته یې په دې موده کې تش یو نظر هم ونکړ...

د فاینل آزموینو ورځې را رواني وې غالب په پوره توګه بدل شوی ؤ سر به یې تل کتاب ته ټیټ ؤ د سهار وخت ؤ ترټولو مخکې راغلی ؤ نوټ یې لیکلو د ټولګي دروازه خلاصه شوه ګلابو ټولګي ته دننه شوه او پر خپل ځای کښیناسته، غالب یې له کتابونو سر پورته نکړ، شیبه وروسته ګلابو له خپل ځای را پورته شوه د غالب خواته را روانه شوه ویې ویل:

- کهٔ کیږي خپل د نوټونو کتابچه راکړه ستا نوټونه ډېر واضیح دي

غالب هیڅ ونهٔ ویل، نهٔ یې ور وکتل ګلابو بیا وویل:

- لکه چې پوی نهٔ شوې؟ د نوټونو کتابچه...

غالب یې له ځای پورته شو او له ټولګي وؤت د دهلیز په کونج کې ودریدو او په سترګو یې بې اختیاره اوښکې رواني وې چې شوکت غږ وکړ:

- څه کوې راځه ټولګي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب ور ورته کتل ویې ویل:
- ته ځه، زه درځم

غالب خپلې اوښکې پاکې کړې او بیرته ټولګي ته ولاړ پر خپل ځای کښیناست، شوکت ور وکتل ورته څیر شو ویې ویل:
- سترګې د سرې دي لکه چې شپه او ورځ درس وایې لږ خوب هم کوه

غالب څه ونهٔ ویل شوکت ورو وویل:
- اوس خو بهٔ هم ورسره مینه نهٔ لرې؟

غالب پهٔ خندا وویل:
- ههههه! زهٔ بیخي داسې څوک نهٔ پیژنم چې ورسره مینه ولرم

شوکت څه ونه ویل غلی ؤ...

ټولګی ډک شو ټول راغلي ؤ شوکت تیر درس لوستو وړانګې غږ کړ:
- شوکته! یو وار خو راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب شوکت ته ور وکتل، شوکت بیرتونه تاو کړل او ور روان شو...

څو دقیقې وروسته بیرته راغی غالب ته یې وویل:

- دلته شور ماشور دی راځه کتابتون ته

غالب ورسره ولاړ کتابتون ته دننه شول، کښیناستل شوکت وویل:

- یوه شیبه! درس مه وایه موضوع بل څه ده

- څه؟ څه شوي؟

- ته ولې داسې کوې؟

- څه مې کړي؟

- وړانګې ویل چې ټولو سره خاندې خبرې کوي خو هوسۍ ته تش سلام هم نهٔ ورکوي

غالب غلی ؤ، لنډه شیبه وروسته یې وویل:

- نو زما څه کیږي؟ چې سلام ورکړم؟

- پریږده یاره مخکې یې له تا نوټونه غوښتي وو او ته همداسې د باندې وتلی وې، ریښتیا! ته څکه د باندې کونج کې ولاړ وې

- بس پریږده یې کهٔ د هغې پهٔ اړه نورې خبرې کوې خو هیڅ یې مکوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوکت غلی شو...

غالب لهٔ کتابتون بیرته ټولګي ته ولاړ، مینه همغه مینه وه خو پهٔ ضد بدله شوې وه د مینې زور یې د درسونو پهٔ ویلو باسلو، همداسې وخت پهٔ تیریدو ؤ لومړی سمسټر خلاص شو غالب هغسې تر ټولو لوړې نمرې اخیستې وې، نوی سمسټر پیل ؤ ځکه پهٔ صنف کې شورماشور ؤ خو غالب غلی ؤ دا ورځ هم تیره شوه غالب کور راغی...

کورنۍ غړو سره یو ځای ناست ؤ، ورور یې وویل:

- مننه

غالب پورته ور وکتل ویې ویل:

- مننه د څه لپاره؟

- ههه مننه چې زما خبره د ومنله

- کومه؟

- همدا چې درسونو کې کوښښ کوې خو یوه خبره کوم، درس ووایه خو داسې مه اوسه ته چې چُپ وې ټول کور داسې ښکاري لکه هدیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب سوړ اسویلی وویست ویې ویل:

- آه! لالا لهٔ تا بهٔ یې څه پټه کړم خو زړه کې مې هغه زور نشته

وروور یې څه ونهٔ ویل کوچني وروور یې د خونې لهٔ بل سر غبږ کړ:

- د جانان لیونۍ مینې د زړه زور زما اوبه کړ

غالب پهٔ غوصه وویل:

- اې څه خر یې

چوپتیا خوره شوه، غالب یې موبایل لهٔ جیب را وباسلو د واره د پیغام شړنګ شو، شوکت ؤ لیکلي یې ؤ:

- خبر شوې؟
- پهٔ څه شي؟
- ټول پوهنتونونه د دوه اونیو لپاره رخصت شول
- ولې؟
- همدا د کُرونا لپاره

غالب یې وروور ته وویل:

- لالا یو څهٔ وغواړم؟
- ووایه څه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کهٔ موټر... موټر راکړې پوهنتونونه رخصت شول زه يو څو ورځې کلي ته ځم

- ههه نو ولې د ژبه بنديږي موټر خو يوازې زما ندی، سمه ده

غالب لهٔ خونې ووتلو مور يې پهٔ انګړ کې جامې وينځلې ور غږ يې کړ:

- ادې! زهٔ کلي ته ځم

- قربان د شم زويه نو دا وخت؟

- هو ټول خلک ځي امن دی تر ماښام ۷ بجو به ورسيږم

مازديګر پهٔ خلاصېدو ؤ چې غالب حرکت وکړ ګړۍ وروسته د پلچرخي له پُل تير شو د کابل - جلال آباد پهٔ لويه لاره روان ؤ موټر کې د شفيق مريد سندره چالانه وه:

ددې سترګو پهٔ پردو کې د تصوير دی
کهٔ پهٔ ټولو آئينو کې د تصوير دی

موټر هغسې روان ؤ د سندرې پهٔ دې بيت سره:

ښکارې ته هم زما قتل لوی اتل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ښار په منارو کې د تصوير دی

موټر ځای په ځای ودريدو، غالب له ځانه سره وويل:

- اوووف! ژوند دې راته عذاب جوړ کړی، چيرته وتښتم ستا له يادونو...

بيرته يې موټر روان کړ شيبه وروسته يې موټر بيرته وګرځولو بيرته د کابل په لوري روان شو...

شپه وه لارې خلاصې وې، ګړۍ وروسته بيرته کورته را ورسيد موټر يې کور ته دننه کړ ورور يې وويل:

- ولې بيرته راغلې؟

- بس زړه مې ونهٔ شو

غالب همداسې خپلې خونې ته ولاړ او ويده شو...

د غالب سترې شپه بيا سبا شوه او سترې ورځ يې پيل شوه، راويښ شو سترګې يې پرانيستې د خونې دروازه ټک ټک شوه مور يې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زويه! ويښ يې کهٔ نه؟ راځه چاى تيار دى

څو شيبې وروسته ورغى دسترخوان يې خور کړ ټول ناست ؤ، د غالب د موبايل شرنګ شو شوکت پيغام ليږلى ؤ:
- موبايل دې ولې بند ؤ تيره شپه؟ څو ځلې مې زنګ ووهلو، خبره داسې وه چې وړانګې نهٔ پوهيږم زما شميره له کومه کړې خو پهٔ واټسپ يې پيغام استولى ؤ ويل يې چې د غالب شميره راکړه څنګه وکړم؟

څو شيبې وروسته يې ځواب ورکړ:
- بلاک يې کړه، کيسه کې يې مه اوسه

غالب پوهيدو چې د صبر ميوه خوږه ده او صبر يې هره ورځ خپلې پايلې ښودلې خو دننه ضد يې ړوند کړى ؤ...

د قرنطينې رخصتيو ورځې تيريدې وخت چيرې تم کيږي، پهٔ چا ښهٔ تيريږي پهٔ چا بد او غالب د درسونو پهٔ لوستو تيرې کړ، دوه اونۍ تيرې شوې پوهنتون پيل شوى ؤ خو لومړۍ ورځ غالب ولاړ نه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه ورځ وه غالب پوهنتون ته روان شو، ورسیدو د پوهنتون دروازې سره شوکت او څو نور ټولګیوال ولاړ وو غالب وویل:

- څه کوئ؟ راځئ دننه

شوکت وویل:

- اوهوو! تاته پهٔ ټمه وو څو کیک او ځینې نور شیان راوړو
- کیک څه کوئ؟ خیریت دی
- ولې تاته نده معلومه چې نن د معلم ورځ ده
- اوه! زما پام نه ؤ

ټول روان شول...

ګړۍ وروسته بیرته را ورسیدل شوکت وویل:

- د پوهنځي کتابتون کې یې لمانځو له رئیس مو اجازه اخیستې ده

کتابتون ته دننه شول ټول ټولګیوال راغلل د کتابتون ډیکوریشن پهٔ خلاصیدو ؤ ګلابو او نورې انجونې هم یو څنګ ته ناستې وې د غالب د موبایل شرنګهار شو کتابتون کې شورماشور ؤ دباندې ووتلو موبایل بند شو ګلابو راغله غالب بیرته کتابتون ته دننه کیدو ګلابو غږ کړ:

- غالبه! څو شیبې خبرې وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب نۀ څه وویل نۀ يې ور وکتل ګلابو له لاس ونيولو او ټولګي ته يې دننه کړ ټولګی تش ؤ يې پۀ ژړغوني غږ يې وويل:

- ولې رانه تښتې؟ ولې! ما څه ګناه کړې؟

غالب هيڅ نۀ ويل ګلابو پر څوکۍ کښيناسته لۀ سترګو يې اوښکې رواني وې غالب وروسته لۀ مياشتو ور وکتل ګلابو وويل:

- راشه کېنه

غالب هغسې ولاړ ؤ ګلابو بيا وويل:

- وايم کېنه !

غالب ورغی لرې ترې کښيناست پۀ غوصه وويل:

- وايم زما څنګ ته کېنه نږدې

غالب نږدې ور کښيناست ګلابو وويل:

- ماسره مينه لرې؟

غالب ګونګی ؤ هيڅ يې نۀ ويل ګلابو پۀ غوصه وويل:

- ووايه! نور وخت نۀ درکوم ډېره وځوريدم بس نۀ ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب وویل:

- نه

- څه نه؟

- نه مانا نه مینه درسره نهٔ لرم

- آه! ته د کومې ختې جوړ یې ټول وایي مینه راسره لري او ته څه وایې؟

غالب غلی شو لنډه شیبه وروسته یې وویل:

- چاته چې خپل عزت ګران وي تاسره بهٔ مینه ونکړي

- ولې پهٔ ما څه شوي؟

- هو لکه هیڅ چې نهٔ پوهیږې زما د ګوانښلو لپاره خو خلک رالیږې او خبره هم نهٔ یې

- څه ؟

- هو همغه کسان چې زهٔ یې وګوانښلم تا نهٔ وو رالیږلي؟

ګلابو غلې شوه، شیبه وروسته غالب وویل:

- ریښتیا ترخهٔ وي ځکه اوس ګونګۍ شوې

د ګلابو پهٔ سترګو اوښکې را روانې وې، شیبه وروسته یې پهٔ ژړغوني غږ وویل:

- قسم کوم زهٔ پهٔ هیڅ نهٔ پوهیږم، خو دا همغه کسان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب د ګلابو اوښکې نشواى ليدلى، ور نږدې شو اوښکې يې ورته پاکې کړې ويې ويل:

- ښه اوس غلې شه، او تا کوم کسان يادول؟

- نهٔ پوهيږم لومړي سمستر کې هغه د عملي کار پهٔ يو فورم کې ټولو خپلې شميرې وليکلې لهٔ هغه ورځې راهيسې چا راته زنګونه وهل ډيره يې وځورولم اړ شوم سيم کارټ مات کړم، هغه يو کس زنګ وهلو ستا پهٔ اړه يې راته وويل چې لرې اوسه ترې

له همغې ورځې راهيسې تا خپل ځاى بدل کړ ټولو سره بهٔ دې خبرې کولې خو ماته د هن راکتل هم نه پهٔ همدې غم کې زما هيڅ دې خبرې ته پام نشو...

غالب وويل:

- آه! تا وويل او ما ومنله لهٔ هغې يوه ورځ مخکې تا واټسپ کې پيغام واستولو چې لهٔ ما لرې اوسه هغه څه وو؟

ګلابو يې له خپلې لاسي کڅوړې موبايل را وباسلو د وړانګې سره د پيغامونو پاڼه يې خلاصه کړ ويې ويل:

- وګوره دا وړانګې راته وويل چې کهٔ مينه درسره لري نو ناشونې ده چې وډار شي ته داسې يو پيغام ورته وکړه چې څه کيږي، خو! تا بلاک کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب غلی شو، د ګلابو پر مخ بیا اوښکې را ماتې شوې غالب پورته شو د ګلابو اوښکې یې پاکې کړې له لاسونو یې ونیوله ویې ویل:
- راځه چې کیک به خلاص شي

ګلابو یې لاس کلک نیولی ؤ ویې ویل:
- نو یو ځل خو ووایه
- څه ووایم؟
- مینه راسره نهٔ لرې؟

غالب له شیبې چوپتیا وروسته چغه کړه:
- مینه درسرررررره لرم، ګلابو!
- زهٔ هم درسره ډېره مینه لرم خو لږ پام کوه نه وینې پوهنتون کې یو څوک بهٔ یې واوري
- نه نه زه اوس هیڅوک نهٔ وینم، بغیر له هغه راتلونکي ژوند چې لهٔ تاسره بهٔ یې لرم

ګلابو مُسکی شوه ویې ویل:
- ښه اول ته دباندې ووځه بیا زهٔ درځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب دباندې ولاړ، لنډه شيبه وروسته گلابو هم ولاړه، په کتابتون کې د لمانځلو مراسم پيل شوي وو شوکت غالب ته وويل:

- چيرته وې ؟

غالب شوکت ته غيږه ورکړه شوکت پهٔ حيرانتيا سره وويل:

- څه شوي خوشحاله ښکارې؟
- د معلم ورځ ده مبارکي مې درکړه
- خو ماته ولې؟ زه معلم يم؟
- هو زما معلم خو ته يې

شوکت مُسک شو، څو شيبې وروسته استادان راغلل مراسم پهٔ خوشحالۍ او خندا سره تير شول د وخت پهٔ تيريدو ټول محصلين ولاړل گلابو او وړانگه هم لهٔ ټولگي ووتل غالب يې شاته پسې ورغی د پوهنځي دهليز کې نور څوک نهٔ وو غږ يې کړ:

- گلابو !

گلابو شاته ور وکتل وړانگې ته يې وويل:

- ته دباندې پهٔ تمه شه زهٔ درځم

د غالب پهٔ لور را روانه شوه ويې ويل:

- څه وايې ؟
- خپله شميره نهٔ راکوې تا ويل سيم کارټ مې مات کړ نوې شميره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلابو موبایل ترې واخیست خپله شمیره یې ولیکله غالب ته یې ورکړ غالب شمیرې ته ځیر شو ویې ویل:

- دا خو ۹ شمیرې دي، یوه شمیره کمه ده

گلابو ترې روانه شوه ویې ویل:

- یوه شمیره یې خپله پیدا کړه زهٔ دې دومره وځورولم دا یې غچ دی...

گلابو ولاړه، څو شیبې وروسته غالب هم د کور پهٔ لور روان شو څیره  یې له لرې د نوي غوړیدلي گل پشان تازه ښکاریده کور ته ورسید، د کور مخ کې یو نوی ماډل موټر ولاړ ؤ، خیر! کور ته دننه شو مور او مشر ورور یې انگړ کې ناست وو غالب وویل:

- لالا دباندې موټر چې ولاړ دی ؟ د چا دی؟

ورور یې مُسک شو ویې ویل:

- زما موټر خو وینې انگړ کې ولاړ دی زما خو ندی

- نه ما ویل د دروازې مخه یې بنده کړې

شیبه وروسته یې ورور له جیب کلی را وباسې غالب ته یې ورکړې ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- واخله کور ته یې دننه کړه، ستا لپاره مې اخیستی د کابل پوهنتون مزل اوږد دی ځکه

غالب باندې پهٔ دې ورځ د خوښیو باران ؤ، له ورور یې مننه وکړه او دباندې ووتلو چې موټر کور ته دننه کړي له هاخوا یې څو ملګري را روان وو یوه چغه کړه:

- کوچنې ورور دې وویل، مبارک د وي خو موږ ته چې چکر رانکړې نهٔ کیږي

غالب یې د ملګرو خبره پر ځمکه ونهٔ غورځوله ټول موټر کې کښیناستل پهٔ چکر ولاړل ورځ پهٔ چکر تیره شوه، د ماښام پای ؤ غالب بیرته کورته را ستون شو، مور یې وویل:

- زویه! ډوډۍ تیاره ده

- نه مورې زه موړ یم دباندې مې وخوړله

خپلې خونې ته روان شو د کور دهلیز کې ټلویزیون روښانه ؤ سندره غږیده:

- ګلاب ګلاب ځوانان رانه پهٔ سرو ...

غالب وارخطا شو لهٔ ځانه سره یې وویل:

- اوف! ګلابو ته مې زنګ هم ونهٔ وهلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ منډه یې خپلې خونې ته دننه شو، موبایل یې را واخیست لهٔ ځانه سره یې وویل:

- اړ یم لهٔ صفر تر لسو یوه یوه شمیره ولیکم ترڅو د ګلابو شمیره پیدا شي

لهٔ صفر یې پیل وکړ زنګ یې تیر کړ ځواب یې ورکړ غالب وویل:

- هلو!

یو دروند غږ تر غوږ شو:

- هلو! اورم

د واره یې موبایل بند کړ څو شمیرې یې ډایل کړې د شپږمې شمیرې نوبت شو ډایل یې کړه شیبه وروسته یې ځواب ورکړ غالب وویل:

- هلوو!

چا غږ ونکړ، لنډه شیبه وروسته غالب بیا وویل:

- غالب یم!

له لنډې شیبې وروسته یو خوږ غږ تر غوږ شو:

- زه هم د غالب ګلابو یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیریږي خو بس کله کله سخـــت شـــي
چې محبوب درسره وي کال هُم ساعت شي

د بیلتون کیسې د چا هُم خوښې نهٔ دي
غوره هغه شي چې پای یې مُحبت شي

د نړۍ تاج او تخت واړه لهٔ عاشق هېر
چې مصروف د معشوقې پهٔ سلطنت شي

رحیمي! بهٔ ستوري شماري نور به څه کا؟
چې یې یار د بې وفا پهٔ نوم نامزد شي

د ملا اذان وخت ؤ، خو گلابو او غالب هغسې خبرې کولې شپې، ورځې او میاشتې تیریدې داسې نهٔ ښکاریدل چې بیا بهٔ ستونزې ددې خوږې مینې پهٔ مخ کې خنډ جوړ کړي خو دا د انسانانو پهٔ لاس کې ندي…

- ۲۰۲۰ میلادي کال ، نوومبر ۱ نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب او ګلابو د پوهنتون په بڼ کې د يوې ونې لاندې ناست وو، ګلابو وويل:

- زما کتابچه ټولګي کې پاتې شوې ته خپله کتابچه راوخله له بيک دې...

- ولې کتابچه څه کوې؟ په شنو پټو کې ناست يمه نو خو نو

ګلابو په خندا شوه ويې ويل:

- ته اوس له ځان کسکر مه جوړوه کهٔ کتابچه وي ټول به ګُمان کوي چې درس وايو ګني بل ګُمان به وکړي

غالب غلی شو بيک ته يې لاس کړ ويې ويل:

- ياره بس دی نور دا د قيد ژوند راځه واده وکړو

ګلابو څه ونهٔ ويل غالب وويل:

- څنګه؟ اوس خو ډاډه يې چې زهٔ به تل درسره مينه کوم

ګلابو بانه له يو بل سره ور وستل څه يې ونه ويل، غالب بيا وويل:

- لکه چې زړه دې ندی؟

ګلابو د واره وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما نو کله ویلي چې زړه مې ندی، تهٔ خو هم هیڅ پهٔ مینه او ناز نهٔ پوهیږې مور دې راولیږه زه چې هو ووایم زما پلار یې مني

- ښه داسې ده، نو زه همدا اوس ځم چې تر ماښامه تمرین وکړم چې مور او ورور ته څنګه ووایم

غالب منډه کړه ګلابو هم ټولګي ته ولاړه، غالب کور ته را ورسید موټر یې ودرولو خونې ته دننه شو د مور څنګ ته یې نږدې ور کښیناست ویې ویل:

- څنګه یې مورې؟

مور یې رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

- ښهٔ خو یې ؟ څنګه لا در یاد شوم!

- اوهوو! مور مې یې بس هر کله رایادیږې

- هها! ښه خبره څه ده؟

غالب وویل:

- مورې ته خو پوهیږې چې زهٔ لوی شوی یم؟

- هههه! نه ماته همغه کوچنی غالب یې، کوچنی چې وې ډېر شوخ وې

- یاره مورې زه لوی شوی یم نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچني ورور يې پېجې کولو لوبه خلاصه شوه موبايل يې کېښود وېې ويل:

- وروره! خو سيده ووايه چې واده راته وکړئ

غالب په غوصه وويل:

- ګوره هلکه ته لهٔ خپل حد تېر شوې

مور يې وويل:

- ښه نو واده نهٔ غواړې ؟
- نه مورې
- نو څه خبره ده بله؟

غالب سور واوښت وېې ويل:

- ما ويل نه مورې غواړم يې!

مور يې مُسکۍ شوه وېې ويل:

- انجلۍ څوک ده؟

غالب يې مور ته ټوله کيسه وکړه مور يې وويل:

- ځه تهٔ آرام وکړه مازديګر دې ورور ته وايم

غالب يې خپلې خونې ته ولاړ، ستړی ؤ ويده شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ډېره ویده ؤ ماښام کیدونکی ؤ، سترګې یې پرانیستې تیاره وه اودس یې وکړ شیبه وروسته اذان وشو لمونځ یې وکړ، دعا یې کوله د خونې دروازه ټک ټک شوه ورغی، کوچنی ورور یې ؤ ویې ویل:

- ادې ویل چې معشوقې ته دې خبر ورکړه سبا ورځو
- ښه خو ورینداره ورته وایه ته ډېر کم عقل شوی یې

ورور یې لاړ...

غالب موبایل را واخیست د ګلابو شمیره یې ډایل کړه زنګ یې تیر کړ لنډه شیبه وروسته یې ځواب ورکړ:

- سلامونه
- وعلیکم خبره واوره، کریډیټ مې پۀ خلاصیدو دي سبا مې مور دوی درځي
- ریښتیا!
- هو هو
- ښه نو غوږ شه بیا سبا زۀ پوهنتون ته نۀ درځم مور دوی دې راځي نو چیرې کیږي خو ته ولاړ شه چې درسونه مهم دي
- ښه سمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبايل يې بند کړ...

- ۲۰۲۰ ميلادي کال د نوومبر ۲ نېټه

د غالب تر ټولو اوږده شپه پهٔ سخته سبا شوه، لمر بيا پر ځمکه خور ؤ خو نن ورځ د لمر پهٔ وړانگو کې د زرگونو نور انسانانو ترڅنگ د غالب او گلابو هيلې هم ځليدلې، غالب پوهنتون ته ولاړ د دوهم ساعت آخري شيبې وې غالب شوکت ته وويل:

- زهٔ يو څو شيبې دباندې ځم نن مې زړه نارامه دی
- ښه ورځه بې ته ولاړ شه چې ښهٔ شې

غالب له ټولگي ووتلو د پوهنتون بڼ کې پر يوه څوکۍ کښيناست موبايل يې لهٔ جيب را وباسلو ډېټا يې روښانه کړه د واره د ميسج شړنگ شو، واټسپ يې خلاص کړ د گلابو پيغام راغلی ؤ د افغاني جامو شال يې پهٔ سر کړی ؤ صرف سترگې يې ښکاريدې غالب زنگ ووهلو، شيبه وروسته يې ځواب ورکړ ويې ويل:

- څنگه ؤ، ځان مې ښکلی جوړ کړی
- اممم! ښه څه وشول؟
- مور دوی دې راغلي، ورور او تره دې بله خونه کې پلار سره ناست دي
- ښه موبايل کې چارج کم دی يو شعر ووايم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ههه! هو خو کسکر واله نه

غالب وویل:

- چې پهٔ نوم دې تا شو بل ته نظر نهٔ کا
گلابو پهٔ یو دیدن مې مئین زړه کا

ستا د یوې مُسکا لپاره سل نخرې کړم
ستا پهٔ یوه مُسکا مې سل وارې زړه ښه کا

چې ته نهٔ وې درست جهان خالي خالي وي
گلابو غالب بهٔ ستا نه بغیر څه کا؟

موبایل بند شو، غالب ناست ؤ څو شیبې وروسته د دزو اوازونه تر غوږ کیدل څو کسان نظامي جامې پر تن پوهنتون ته دننه شوي وو...

گلابو خپله خونه کې ناسته وه، گړۍ وروسته یې وریندراه راغله ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مبارک د وي

ګلابو مُسکۍ شوه لهٔ حیاء یې څه ونه ویل د واټسپ د پیغام شرنګ شو وړانګې پیغام لیکلی ؤ:
- پهٔ کابل پوهنتون وسلوال برید شوی، موږ رخصت شوي ؤ خو غالب د باندې بڼ کې ناست ؤ هلکانو ورته زنګونه ووهل موبایل یې هم بند دی، ترهګرو ډېر ځوانان ویشتي دي

د ګلابو لهٔ لاس موبایل ولویدو او پر ځمکه را وغورځیده، پهٔ کور کې چغې شوې د غالب مور هم خبره شوه پهٔ چغو چغو یې ویل:
- آه زما بدبخته زویه دا څه وشول

د ګلابو مور هم پهٔ ژړغوني غږ ویل:
- وااای! لورې لهٔ واده مخکې کونډه شوې دا څه وشول؟؟

تر ناوخته مازدیګر پهٔ پوهنتون کې جګړه روانه وه...

ماښام شو جګړه پای ته ورسیدله د غالب ورور او د ګلابو پلار پهٔ روغتونونو ګرځیدل ځکه دا نه وه مالومه چې غالب مړ دی کهٔ ژوندی، څو روغتونونه یې وکتل خو غالب پیدا نهٔ شو شپه د غالب د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ پیدا کیدو پهٔ غم سبا شوه د غالب ورور هم د گلابو دوی پهٔ کور کې ؤ، یوازې ایمرجنسي روغتون پاتې ؤ ور روان شول، گړۍ وروسته ور ورسیدل د روغتون پهٔ مخ کې د شهیدانو د نومونو لیسټ ؤ پهٔ لیسټ کې د غالب نوم نه ؤ خو دننه یې هم څوک نهٔ پریښودل لهٔ ډېر ټینگار او عذر وروسته یې ور پریښودل ځای ځای بې صاحبه تابوتونه ایښي ؤ څو شهیدان یې وکتل غالب پیدا نهٔ شو لهٔ یو سپین ږیري یې وپوښتل:

- دلته ټول څومره شهیدان راوړل شوي

- زهٔ له پرون شپې راهیسې دلته یم، ۳۳ کسان شهیدان شوي وو د ډیرو خپلوان راغلل بس دا څلور شهیدان پاتې دي درې یې تاسو وکتل او هغه یو خو بیخي نهٔ پیژندل کیږي

د غالب ورور خواشینی د همغه تابوت پهٔ لور ور روان شو د تابوت تر څنگ یو کس ولاړ ؤ د غالب د ورور زړه درزیدو ورنږدې شو چې د تابوت تر څنگ ولاړ ځوان مخ را واړوو د غالب ورور پهٔ لوړ آواز وویل:

- غالبه!

او بې هوښه شو، سپین ږیري غږ کړ:

- ریښتیا! زما هیر شو چې دا ځوان در وپیژنم دا غالب ځوان دی له پرون شپې راهیسې د شهیدانو سره دی خدای د خیر ورکړي ډېره مرسته یې وکړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب ولاړ اوبه یې راوړې د ورور پر مخ یې وشیندلې ورور یې پهٔ هوښ راغی د واره یې غالب پهٔ څپېړه ووهلو ویې ویل:

- دومره بې مسولیته یې هلته د مور څه حالت دی هوسۍ بې هوښه پرته ده یو زنګ د نشو وهلی

غالب سر ښکته واچولو ویې ویل:

- لالا! داسې حال شو چې زما ځان هیر شو ته وګوره شاوخوا پهٔ لسګونو ځوانان شهیدان شوي او زما موبایل کې چارج نشته

غالب یې له ورور سره روان شو غالب پهٔ موټر کې خپل موبایل چارج ته ورکړ، څو شیبې وروسته یې موبایل روښانه کړ ګلابو ته یې پیغام واستولو ویې لیکل:

- ښه یې؟ پهٔ ما هیڅ ندي شوي رک روغ یم

څو شیبې وروسته د پیغام ځواب راغی لیکلي ؤ:

- سلام زه د هوسۍ وریندراه یم موږ ته د هوسۍ پلار زنګ ووهلو موږ خبر یو چې ښه یې او هوسۍ هم ښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالب د پیغام ځواب ولیکلو:

- خو هوسی، خپله چیرې ؟

- هغه وایي چې یوه میاشت راسره خبرې ونکړې

غالب له ځانه سره وخندل وروړ یې رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

- بې پروا!

دا وخت هم تېر شو گلابو ریښتیا هم پوره یوه میاشت د غالب شمیره بلاک کړې وه، خو د غالب زړه ډاډه ؤ ځکه اوس گلابو د غالب پهٔ نوم وه ددې داستان د ستونزو لړی، ختمه شوه کهٔ نه؟ لا نده مالومه ځکه ژوند کې کهٔ ستونزې نهٔ وي ژوند ورته نشو ویلی...

۲۰۲۱ میلادي کال د اگسټ میاشت

نور نو ستونزې خلاصې شوې یوه اونی، کیږي د گلابو او غالب د واده نېټه ټاکل شوې...

۲۰۲۱ میلادي کال د اگسټ ۱۴مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماښام وخت کیدونکی ؤ پهٔ کور کې د خوښۍ ماحول جوړ ؤ شور ما شور ؤ، غالب خپله خونه کې ناست ؤ د گلابو پیغام راغی:

- سبا مو واده دی، او خبرونه خو وینې شیبه پهٔ شیبه یو یو ولایت سقوط کیږي یو ځل زموږ واده پخیر تیر شي

غالب ځواب ورکړ:

- هیڅ خبره نشته، خبرونه ډیر مهٔ گوره نن بهٔ زه هم وختي ویده شم ته هم سبا مو اوږده او مهمه ورځ مخ کې ده...

څو شیبې وروسته غالب ویده شو، د گلابو او غالب د مقدر دا شپه هم رڼا شوه د سهار لس بجې وې د گلابو زنگ راغی ځواب یې ورکړ ویل یې:

- زه اوس ځم سینگارتون ته، نو کهٔ د پیغام ځواب مې درنکړ اندیښنه ونکړې زهٔ خو ستا غوندې نهٔ یم چې خبر درنکړم

- ښه خو واده خو شپې ته پیل کیږي دومره ژر بهٔ دې سینگار خراب شي

- نه ایله تر ماښام خلاص شي

- ښه سمه ده

موبایل یې بند کړ، کوچنی ورور یې راغی ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- راځه چې سینګار ته دې بوځم
- د څه شي سینګار زۀ خو ناوې نۀ يم
- یاره لږ خو دا ږیره او ویښتان اصلاح کړه

غالب یې لۀ کوچني ورور سره سقاوې ته روان شو، بیروبار ؤ تر ناوخته نوبت ونه رسیدلو ۱:۰۰ بجه کیدونکې وه د غالب نوبت را ورسیدلو پر څوکۍ کښیناستلو ږیره یې نیمه جوړه شوې وه نیمه نه چې پر ټلویزیون تازه خبر راغی:
- کابل پۀ اضطراري حالت کې ویل کیږي چې ارګ او د کابل ځیني حوزې د طالبانو په کنټرول کې دي

څو شیبې وروسته د هوایي ډزو غږونه واوریدل شول، ډیر خلک پۀ منډه له سقاوې ووتل کس وویل:
- vوروره پورته شه! د مرمیو باران دی دوکان بندوم ځان خو راباندې تاوان ندی

غالب لۀ څوکۍ پاڅیدو له ورور سره یې ژر موټر ته پورته شو او کور ته ولاړل...

کور ته دننه شول کور تش ؤ ځیني راغلي میلمانه هم تللي ؤ پۀ خونه کې کښیناست کوچنی ورور یې راغی ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- واخله نوي کالي او واسکټ دې

غالب کالي ترې واخيستل پر ځمکه يې وويشتل ويې ويل:
- بخت مې کوڼه دی

ورځ پهٔ انديښنه کې تيره شوه د ګلابو موبايل بند ؤ حالت داسې نهٔ ؤ
چې څوک دباندې ووځي پهٔ دې ډول درې ورځې تيرې شوې
ماخستن ؤ غالب ويده کيدو چې پر واټسپ د ګلابو ويډيو کال
راغی حيران شو خو ژر يې ځواب ورکړ د ګلابو پر تن د ناوې
جامې وې غالب وويل:
- ته خو ښه يې، او تراوسه سينګارتون کې بنده يې؟
- زهٔ ښه يم
- خو دا شاته دومره ګڼه ګوڼه ولې ده؟
- هغه... مور ټول قطر کې يو دا وګوره دا کمپ دی
- څنګه؟
- زهٔ هم نهٔ پوهيږم دا مې ټول د پلار کارونه دي

غالب موبايل بند کړ د خونې نه د باندې ووت ورور ته يې ورغی
ويې ويل:
- لالا! هغوی خو قطر کې دي
- څوک؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه... هوسۍ او کورنۍ یې

ورځې او شپې تیریدې ګلابو امریکا ته ورسیده خو غالب د کور د باندې هم قدم نهٔ ؤ ایښی د اګست ۲۶مه نېټه وه ټول پهٔ خونه کې ناست وو ورور یې راغی ویې ویل:
- ځانونه تیار کړئ، بس ځینې اړین شیان مو ځان سره را واخلئ ځو

غالب وویل:
- ولې چیرې ځو؟
- پوښتنې ډیرې مکوه وخت یې ندی

د څه ویلو چانس یې ورنکړ اړ وو چې ځانونه تیار کړي، ګړۍ وروسته روان شول د کابل هوایي ډګر عمومي دروازې سره ولاړل وو، ګڼه ګوڼه زیاته وه ددې تلونکو خلکو مینځ کې ٪۹۰ خلک بې اسنادو او مدارکو روان وو څکه دننه کیدل ستونزمن وو د مازدیګر وخت پهٔ زور او تېلو هوایي ډګر ته دننه شول تلونکي کسان یې ټول پهٔ قطار کینولي وو تر ماښامه ناست ؤ غالب وویل:
- لالا! خو ولې ځو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا د غالب خبره نه وه خلاصه چې د درز شو د هوايي ډګر د قصبې خوا دروازې نه تور لوګي پورته شول چغې شوې د لويو او وړو وسلو ډزې تر غوږ کيدې نور څه مالوم نهٔ شول ځکه دوی دننه وو...

يو ساعت وروسته يوه لويه الوتکه راغله ټول پهٔ قطار ور روان وو، له مسافرينو ډکه شوه د الوتکې دروازه بنده شوه...

لهٔ کابل نه تر قطر، له قطر نه د امريکا د ويرجينيا کمپ پورې تګ درې اونې وخت ونيولو، ګلابو او غالب د امريکا ويرجينيا کمپ کې يوځای شول د ورور غوښتنه يې وه چې د همدې افغان کډوالو پهٔ شتون کې به د دوی نکاح وتړي او هغسې وشول که څه هم خاوره پردۍ وه خو خلک خپل وو د غالب او ګلابو واده د بيلابيلو اقوامو پهٔ شتون کې د کډوالو پهٔ کمپ کې وشو، خو دا واده له وطني ودونو ډېر رنګين ؤ ځکه د هر قوم او هر رنګ افغان کورنيو شتون درلود پهٔ رنګينو مراسمو ګلابو د غالب ميرمنه شوه، کوچنی ستېج جوړ ؤ له نکاح وروسته غالب ستېج ته پورته شو ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له تاسو ټولو مننه، کهٔ څه هم پهٔ خپل وطن کې مې واده ونشو کړای خو ما هسې ویل چې بخت مې کوټه دی، نه! بخت مې بیدار دی ځکه خو یې تاسو سره مخ کړم...

موږ پهٔ مینه واده وکړ، د مینې پهٔ دې دور کې له ډیرو ستونزو سره مخ شوي یو خو ژوند پهٔ ستونزو ژوند دی که ستونزې نهٔ وي ژوند بې مانا دی، ما هم تل ستونزو ته غیږه ورکړه خو مینه مې پرینښوده، زما ملګري شوکت بهٔ ویل چې " مینه کې د پای ټکی نشته صرف کامې دي"

غالب له شیبې چوپتیا وروسته وویل:

- خو خواشینی یم چې ترټولو ښه ملګری مې شوکت پهٔ دې مراسمو کې نه ؤ.

د خلکو د ګڼه ګوڼې له مینځ غږ شو:

- غالبه! زه دلته یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**